دغه رنگ مو تاسي غوره امت گرځولي یاست چي پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

الله پاک تاسي ته امر کوي چي امانتونه خپلو خاوندانو ته وسپارئ. او چي کله مو د خلکو په مینځ کي پریکړه او حکم کاو، نو باید په عدل او انصاف سره یې وکړئ. بیشکه الله پاک تاسي ته ډېر ښه نصیحت کوي. او الله پاک ښه اوریدونکي او ښه لیدونکي دی. (النساء: ۵۸)

درس حدیث

از جابر (رضی الله عنه) روایت است که:
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: از ظلم بپرهیزید، زیرا ظلم تاریکی های روز قیامت است. و از آزمندی بپرهیزید، زیرا آزمندی مردمی را که پیش از شما بودند، هلاک ساخت، وادار شان کرد، تا خونهای شانرا بریزند، و محارم شانرا حلال شمارند. (الحدیث)

شهادت شپږم کال، ۲ مه گڼه، پرله پسې ۲۵۰ مه گڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د غويي ۹ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د جمادی الثانی ۲۸ مه د ۲۰۱۴ م د اپریل ۲۹ مه

داکتر عبدالله عبدالله:

نتایجی که بر مبنای قانون باشد، می پذیرم

«ما هم به حیث کسانیکه ملت افغانستان بالای ما اعتماد کرده اند، از رای مردم حفاظت می کنیم و مسوولیت کمیسیون های انتخاباتی است تا از آرای مردم حمایت نمایند»

کابل، پژواک:
داکتر عبدالله عبدالله نامزد پیشتاز انتخابات ریاست جمهوری افغانستان، بر شفافیت کامل پروسه باقی مانده انتخابات تاکید نموده می گوید نتایجی که بر مبنای قانون به دست بیاید، مورد پذیرش وی می باشد.
داکتر عبدالله عبدالله پس از اعلام نتایج انتخابات ریاست جمهوری، در نخستین کنفرانس خبری اش روز یکشنبه ۷ ثور در کابل گفت که از رفتن به دور دوم انتخابات هراس ندارد؛ اما هراس تیم انتخاباتی آنها از عدم شفافیت و قانونیت، در این پروسه می باشد.
بر اساس نتایج ابتدایی انتخابات ریاست جمهوری، که از سوی کمیسیون مستقل انتخابات اعلام شد، هیچ یک از نامزدان، نتوانسته اند آرای مورد نیاز برای پیروزی در انتخابات را به دست آورند.
داکترعبدالله عبدالله با ۴۴.۹ درصد و اشرف غني با ۳۱.۵ درصد آرا پیشتاز انتخابات می باشند؛ اگر در نتیجه بررسی شکایت ها توسط کمیسیون شکایت های انتخاباتی، در آن آمار تغیر به وجود نیاید، انتخابات به دور دوم می رود.
داکتر عبدالله گفت که تیم انتخاباتی وی، در برابر همه آرایی که هواداران شان به نفع آن ها در صندوق های رای دهی ریخته اند، مسوولیت دارد.

(ص، ۴)

د انتخاباتو کمیسیون مفسد کارکوونکي به عدلي ارگانونو ته وسپارل شي

کابل، رسنۍ:
که څه هم تراوسه د انتخاباتي شکایتونو کمیسیون په درغلیو کې د ښکیلو کسانو لست نه دی چمتو کړی، خو د انتخاباتو څپلواک کمیسیون وايي، که د دوی کوم کارکوونکي مفسد وپېژندل شي جدي جلند به ورسره وکړي.
ددې کمیسیون د دارالانشا مشر ضیاالحق امرخیل وايي، چې د انتخاباتو د یوشمیر کارکوونکو د درغلیو په اړه دوی ته هم ادعاوې ورسیدلي، خو زیاتوي، چې دوی به له پوره غور او څېړنو وروسته په دې اړه پریکړه وکړي.
ښاغلي امرخیل د دوشنبې په ورځ ازادي راډیو ته وویل، چې دوی به په درغلیو کې د ښکیلو کارکوونکو په وړاندې چوپه خوله پاته نه شي، بلکې له دندې به یې لرې او په ځای به یې نور کسان وگماري.

(۴ مخ)

مختصری از سوانح چهرۀ تابناک نهضت بزرگ اسلامی کشور ما

مرحوم انجنیر عبیدالله سیرت

دکتور محمدانور

مرحوم انجنیر محمدولی معروف به «عبیدالله سیرت» فرزند مرحوم محمد علی در سال ۱۳۲۹ هـ ش در قریه خیرآباد ولسوالی سرخ رود ولایت ننگرهار دیده به جهان گشود.
در آغوش خانواده متدین پرورش یافت. دورۀ ابتدائی را در ابتدائیه بالا باغ و دورۀ ثانوی را در لیسه عالی فقرالله بسر رسانید و در سال ۱۳۴۸ هـ ش ازین لیسه فارغ التحصیل گردید.
مرحوم انجنیر عبیدالله سیرت بنابر داشتن احساس عالی اسلامی از دورۀ لیسه با نهضت جوانان مسلمان رابطۀ نزدیک داشت و در اجتماعات و محافل دعوتی همواره در کنار مرحوم استاد عبدالرحیم نیازی، شهید انجنیر حبیب الرحمن، شهید مولوی حبیب الرحمن، و سایر چهره های درخشان این نهضت حضورداشتند.
مرحوم انجنیر عبیدالله سیرت با فراغت از دوره ثانوی، با علاقمندی به معارف و پرورش سالم فرزندان کشور وظیفه معلمی را در ولایت بامیان اختیار کرد. و مدتی نه گذشت که با اعلان نتایج امتحان کانکور شامل پوهنځی پولی تخنیک پوهنتون کابل گردید. رشتۀ ساختمان بند و نهر را به هدف بزرگ خدمت به این سرزمین انتخاب و تا صنف پنجم ادامه داد. ...

(ص،۳)

د هېواد جهادي او سیاسي شخصیت انجنیرعبیدالله سیرت فاتحه واخیستل شوه

عبدالله کامه وال، ننگرهار:
دتیرې شنبې په ورځ دافغانستان دمقدس جهاد دپاوړي مجاهد او د اسلامي نهضت دلومړی لیکې دسپاهي انجنیر عبیدالله سیرت فاتحه د حزب اسلامي د ولایتي دفتر له لورې دننگرهار په امیرشهید مسجد کې واخیستل شوه.
پدې مراسمو کې ...

(۴ مخ)

د فاتحې اعلان

د نهضت اسلامي د رهبری شورا غړی، د حزب اسلامي پخوانی مرستیال او د جهاد او دعوت د نه ستړي کېدونکي لاروي انجنیر عبیدالله سیرت د مړینې له کبله ټولو دوستانو ته خبر ورکول کېږي چې د مرحوم د فاتحې مراسم د ثور د میاشتې په لسمه نېټه د چهارشنبې په ورځ د مرحوم د کورنۍ او د نهضت اسلامي د لارویانو لخوا د کابل ښار د عیدگاه په جامع جومات کې د ماسپښین له ۱:۳۰ بجې څخه تر ۳:۳۰ بجو پورې اخیستل کېږي.

(انا لله و انا الیه راجعون)

لودین:

ټول افغانان دې د ممکنه دویم پړاو په ټاکنو کې برخه واخلي

د ۱۳۵۷ کال د ثور د اومې کودتا په افغانستان کې د وژنو او گډوډیو اصلي لامل دی

لودین:
جلال اباد، رسنۍ:
د ننگرهار والي وايي، چې په افغانستان کې د ناورین د مخنیوي لپاره باید ټول افغانان په ممکنه دویم پړاو ټاکنو کې برخه واخلي.
مولوي عطاء الله لودین دا څرگندونې د غويي په ۸مه په هېواد کې د مجاهدینو بریا د ورځې د نمانځنې په مراسمو کې وکړې.
لودین وویل، چې که ټاکنې دویم پړاو ته لاړې شي، نو ټول ولسونه باید په کې ونډه واخلي او که په لومړي دور کې پای ته ورسېږي، نو باید په شریکه یې پایلې ومنو.

(۴ مخ)

سرمقاله

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د ثور اوومه او اتمه د تاریخ دوه متفاوتې پېښې

د افغانستان په تاریخ کې د ثور اوومه او اتمه دوه داسې متفاوتې ورځې دي چې ترمنځ یې د آسمان او ځمکې هومره فرق دی. ۱۳۵۷ کال د ثور په اوومه د افغانستان کمونستانو د خونړۍ کودتا په ترڅ کې د سردار محمد داودخان حکومت ړنګ او په ګرد هېواد کې د راسخو او متعهدو مسلمانانو د وژلو لړۍ پیل کړه، د لکونو په تعداد کې متدین او راسخ العقیده بې ګناه مسلمانان یې ژوندي تر خاورو لاندې کړل، د اسلام د سپېڅلي دین د جرړو د ویستلو او له هېواد نه د اسلام د نوم د ورکولو لپاره یې توری له تیکی راوویستلې، پخپلو غونډو او لاریونونو کې د حورا او درود بر لینن کبیر غږونه پورته کړل. د ثور اوومه د افغانستان په تاریخ کې هغه توره ورځ وه چې افغانانو ته له روسي مداخلو، مرګونو، ویرونو، بدبختیو، لوږو تندو، هجرتونو او غمونو پرته بل هیڅ نه دي ورکړي؛ مګر برعکس د ۱۳۷۱ کال د ثور اتمه هغه ورځ ده چې د افغانستان غیرتي او مجاهد ولس خپل ګران هېواد یې د خپلو لکونو ککریو په قربانۍ د کمونستانو له ظالمو او خونړیو منګولو څخه خلاص او ولس یې یو ځل بیا د یو خپلواک افغانستان خاوندان کړل؛ نو ځکه هر کال د افغانستان مسلمان ولس د ثور اوومه په کلکو ټکو غندي او مقالې ورباندې لیکي.

همدغه راز د ثور اتمه هم چې د هېواد د ازادۍ او د اسلام د مقدس دین د سرلوړۍ په جهاد کې د بري لومړۍ ورځ ده په شاندارو غونډو کې نمانځي او د لوی الله شکرانه ادا کوي؛ که څه هم د افغانستان په تاریخ کې د مجاهدینو دغه د بري ورځ ستره کارنامه ده؛ خو لدې واقعیت نه هم باید سترګې پټې نه کړو چې دغه سپېڅلي جهاد چې د کوم لوی مقصد لپاره پیل شوی و، او لکونو مجاهدینو خپلې ککرۍ ورته نذرانه کړې وې هغه لوی مقصد ته لاتراوسه نه یو رسیدلي، نه په حقیقي معنی اسلامي حکومت قائم شوی او نه هم د مسلمانانو ترمنځ اتفاق او یووالي، په قبرونو کې د شهیدانو او په ژوندیو کې دهغوی د لکونو وارثینو، معلولینو او غازیانو روحونه پریشانه دي، د هرې مجاهدی کورنۍ تر ټولو ستر ارمان دا دی چې په خپل هېواد کې د خپلو شهیدانو د قربانیو ثمره وګوري؛ خو بدبختانه تراوسه زموږ مشران د خپل مسلمان او غیرتي ولس ددغه ارمان په پوره کولو کې پاتې راغلي دي، همدا علت دی چې اوس هم د اسلام او خاورې دښمنان نه یوازې دا چې د حکومت پر لوړو څوکیو ناست حکومت کوي؛ بلکې د اسلام او استقلال غازیانو پسې اوتې بوتې هم وایي، څوک یې جنګسالاران بولي او څوک یې ټوپک سالاران او زورواکان، داسې کوم عیب او تور نشته چې پر مجاهدینو یې ونه تپي، اوس خو خبره تر دې رسیدلې چې د میلیونو افغانانو قاتلین په منسجم ډول ټول په یو اتفاق اشرف غني پسې ولاړ دي او غواړي چې له همدې لارې یو ځل بیا ځانونه اقتدار ته ورسوي او خپل شوم اهداف پرمخ یوسي. په دې حساسو او نازکو حالاتو کې چې د میلیونو شهیدانو وینې او قربانۍ یو ځل بیا په خطر کې ولویدلي او نژدې ده چې د معمولي غفلت په نتیجه کې د مجاهدینو ټولې لاسته راوړنې هدر لاړ شي، ددې خبرې کلک ضرورت دی چې د مجاهدینو ټول مشران او د نظر خاوندان پخپلو کې سره راغونډ او د ټولو جهادي ګوندونو ورونه په یو صف کې ودروي، او که ټاکنې دویم پړاو ته لاړې شي؛ نو ټول په یو اتفاق خپلې رأیې د یو لوی جهادي ګوند مهم غړی او دریو لویو جهادي ګوندونو متفقه نوماند ښاغلی عبدالله عبدالله ته ورکړي چې په دې توګه د شهیدانو روحونه هم خوشاله شي او دهغوی د وارثینو خدمت هم ترسره شي، که داسې ونکړو او د تیر په څیر صرف د ثور اتمې د بریا په نمانځلو بسنه وکړو نو موږ نه یوازې دا چې د خپل خدای او خپلو شهیدانو پر وړاندې ملامت یو؛ بلکې له هغه بد سرنوشت سره به هم اخته کېږو چې بیا لپاره به ترینه وتل ناشونی او محال وي، راځئ خپل دغه وخت غنیمت وګڼو او د خپل دنیوي او اخروي مسؤولیت ترسره کولو لپاره پخپلو کې سره یو موټی شو، د الله رضا هم ترلاسه کړو او د مجاهد ملت دعا هم.

✍ نصرالله

اشرف غني صیب!

ولسواکي د اولس د رأیو د احترام پر بنیاد راځي

د ولسواکي مفهوم دا دی چې د یو هېواد اوسیدونکي د خپلو رایو له لارې خپل راتلونکي ولسمشر وټاکي، دا چې په ګرد هېواد کې د رأیو اچولو لپاره صندوقونه ایښودل کېږي، ددې څرګند مطلب دا دی چې اولس آزاد دی او په مطلق ډول حق لري چې خپلې رأیې د خپل تأیید وړ نوماند په صندوق کې واچوي او په دې توګه دهغوی د دغو رأیو یو په نتیجه کې چې هر څوک زیاتې رأیې ترلاسه کړي د هېواد د ولسمشر په توګه له څه چون او چرا له ویلو پرته ومنل شي. کله چې د ولسواکي مطلب او مفهوم همدا دی؛ نو بیا له څه شک پرته دهغوی د آراو احترام هم په ولاړو ټولو نوماندانو لازمي دی، هیڅ نوماند حق نه لري چې له منلو نه یې سرغړونه وکړي او په بېلا بېلو انو بانو سره د نه منلو خبره وکړي. هر هغه نوماند چې د اولس د رأیو احترام نه کوي او په مختلفو انو بانو د خپلې ماتې منلو ته غاړه نه ږدي، هغه اصلاً د ولسواکۍ تر شعار لاندې د زورواکی کرغیړنه پلان لري، د ۱۳۹۳ کال د وري په شپاړسمه چې کومې ټولټاکنې ترسره شوی اولس ګردی نړۍ ته دا ثابته کړه چې هغوی د خپلې خوښې په زعیم ټاکلو کې زیاته لیوالتیا لري او د ټاکنو دغه لاره پخپل حق کې تر ټولو مناسبه او غوره ګڼي اوس چې ابتدایي پایلې اعلان شوي او د اصلاحاتو او همپالنې د ټیم نوماند ښاغلی عبدالله عبدالله زیاتې رأیې ترلاسه کړي ښاغلی اشرف غني شور او واویلا کوي چې په ټاکنو کې درغلۍ شوي او اخطار ورکوي چې که چیرته د شکایاتو کمیسیون پاکې رأیې له ناپاکو څخه جلا نه کړي؛ نو هېواد کې به لوی ناورین سراوچت کړي. که څه هم له دې خبرې نه انکار نشي کیدلې چې په ټاکنو کې درغلۍ شوي دي او د عبدالله عبدالله په شمول ټولو نوماندانو د درغلیو په اړه خپل غږونه هم اوچت کړي او هر یو په جدي توګه د شکایاتو له کمیسیون نه غوښتنه هم کړې چې پاکې او ناپاکې رأیې سره تفکیک کړي؛ مګر د ښاغلي اشرف غني انداز او اخطار بالکل جلا بڼه لري، هغه داسې فکر کوي چې ټول اولس هم دهغه په موټی کې و او دهغوی ټولې رأیې هم یوازې دهغه میراث و، دا چې د عبدالله عبدالله رأیې ډیرې شوي دي؛ نو زما پر میراث یې ډاکه اچولی، په داسې حال کې چې اولس خپلواکه و او هغوی ته د همدغې خپلواکی له امله حق ورکول شوی و چې د رأیو صندوقونو ته لاړ شي او د خپلې خوښې نوماند ته رأیه ورکړي. که اولس خپلواکه نه و او یوازې د اشرف غني حلقه بګوش غلامان و؛ نو بیا د رأیو صندوقو ته دهغوی تلل او په کمپاینونو کې له هغوی نه د رأیو غوښتلو لپاره د دومره پراخو هلو ځلو او مالي لګښتونو څه ضرورت و؟ له همغې لومړۍ ورځې نه به یې ویلی وو چې د ولسمشرۍ یواځینی حقدار زه یم نورو ته ضرورت نشته چې ځانونه نوماندان کړي او ولسمشرۍ ته ودرېږي.

ښاغلی اشرف غني چې وړمه ورځ پخپلې وینا کې د ټاکنو ابتدایي پایلو په اړه خپل کوم عکس العمل ښکاره کړ، هغه سراسر د ولسواکۍ له روحیې سره په ټکر کې و، هغه نه یوازې دا چې ددغو پایلو له منلو څخه سوچ انکار وکړ؛ بلکې په صراحت سره یې وویل چې ددغو ټاکنو یواځینی ګټونکی زه یم، که د ټولټاکنو دواړه خپلواک کمیسیونونه پخپلو پریکړو کې عدالت ونکړي؛ نو هېواد به له لوی بحران سره مخامخ شي. هېوادوال نه پوهېږي چې ښاغلی اشرف غني په کوم معیار او په کوم اصول داسې څرګندونې کوي؟ آخر دا څنګه ممکن کیدلې شي چې د اولس ملاتړ دی هم له همغه سره وي او له شفافیت نه دی هم همغه برخمن وي، د انتخاباتو خپلواک کمیسیون دی هم ددې په نقش قدم روان وي او شکایاتو کمیسیون دی هم دده په خوله پیاز وخوري؟! که چیرته د ولسواکۍ او ټولټاکنی مفهوم او معنا همدا وي، بیا خو د افغانستان اولس ترینه په توبو توبه ګار دي. اشرف غني پوه شه او دا ډول ولسواکي یې.

کله چې د زورواکۍ پرځای د ولسواکۍ خبره کېږي او د زعیم ټاکلو حق په مطلق ډول اولس ته ورکول کېږي، بیا دې لپاره لویه زړه هم پکار ده؛ نه دا چې په خوله دی د ولسواکۍ شعار ورکړل شي مګر د عمل په ډګر کې زورواکـي او زبردستي وکارول شي.

په ګرده نړۍ کې د هر کار لپاره څه قوانین او اصول ټاکل شوي دي، د اولسي وګړو ترمنځ د شخړو او قضایاو د حل او فصل لپاره عدالتونه، د لوبو د څار او فیصلې لپاره ریفري او د انتخاباتو د ترسره کولو او شکایتونو د اوریدو لپاره د ټاکنو خپلواک او شکایاتو کمیسیونونه ټاکل کېږي په افغانستان کې هم د انتخاباتو د ترسره کولو لپاره دا دوه کمیسیونونه ټاکل شوي دي چې دغه دواړه کمیسیونونه ټاکنې هم ترسره کوي او په دې کې ترسره شوي د درغلیو په اړه د نوماندانو او ناظرینو شکایتونه هم څیړي، هر نوماند دا حق لري چې د قانون په چوکاټ کې له یاد دواړه کمیسیونونو سره خپله دعوه پرمخ بوځي؛ خو په مطلق ډول پر هغوی زور چلول او اخطار ورکول د ولسواکۍ او قانون پرخلاف عمل دی چې په هیڅ حالت کې د منلو وړ نه دی.

ښاغلی اشرف غني او دهغه ویاندان چې کومې څرګندونې کوي له هغه نه صرف دا ترلاسه کېږي چې هغه او ملګري یې د شیدو په څیر پاک او نور ټول ګنده دي، پخپله اشرف غني پوره من او نور د هغه په وړاندې خورد هم نه دي. په داسې حال کې چې داسې انګیرنه او فکر کول دومره لوی ملت ته د حقارت په نظر کتل او دا تأثر ورکول دی چې په دې هېواد کې یواځینی شخص زه یم چې په هر څه کې پوره او کره یم، په داسې حال کې چې انسان له نیمګړتیاونه خالي نه دي، مګر ډاکتر اشرف غني خپل ځان د هر فن مولا ګڼي. د افغانستان په ۲۶ میلیونه خلکو کې دا جوهر شته چې د عالم او نه عالم ترمنځ توپیر وکړي او هغه څوک خپل ولسمشر وټاکي چې پر علمیت یې قانع شوي وي.

د اولس رأیې او ملاتړ یوازې په دې ادعا نه ترلاسه کېږي چې زه په هر لحاظ په ټول برابر او له نیمګړتیاو نه پاک یم؛ بلکې ولس سترګې هم لري او غوږونه هم. د هر چا په اړه غور او فکر کوي، دهغه خبرو، کړنو، اخلاق، زغم، متانت، حوصلې، تواضع، نارمل اعصاب او د ژبې عفت ته ګوري او بیا دهغه د ملاتړ او نه ملاتړ پریکړه کوي.

ښاغلی اشرف غني چې په کومه ورځ د کاندیداتورۍ کاغذونه ترلاسه کړل؛ نو دهغه لومړنی خبره دا وه چې زه له شمال نه نیولی تر جنوبه او له مشرق نه نیولی تر مغربه له هر چا سره مناظرې ته حاضر یم، هغه ددې خبرې په کولو سره ولس ته ددې تاثر ورکولو کوښښ کاو چې ګنې زه په ټول افغانستان کې بې جوړې شخص یم او هیڅوک له ماسره سیالي نشي کولای؛ خو په انتخاباتي کمپاینونو کې دهغه د مناظرو ارمان هم پوره شو: هغه د اولس په وړاندې داسې کوم پروګرام او پالیسي وړاندې نه کړای شو چې د نورو نوماندانو، په ځانګړې ډول د عبدالله عبدالله پر پروګرامو فوقیت ولري. نه یې فصاحت ښه و او نه هم لهجه او انداز، نه یې په بشاشت کې فوقیت درلود نه په انرژي او طراوت کې؛ بلکې په هر لحاظ له ښاغلی عبدالله عبدالله نه په مراتبو کمزورې او د تازه ګلاب په څنګ کې د مړاوي ګلاب په څیر ښکاره کېده، همدا لاملونه وو چې په ټاکنو کې اولس عبدالله عبدالله ته پر اشرف غني لومړیتوب ورکړ او د بري په لومړۍ صف کې یې ودراو: مګر ښاغلی اشرف غني بیا هم د اولس دا فیصله نه مني او د پخوا په څیر هر څه زه یم له شعاره لاس نه اخلي.

ګرانو هېوادوالو به د تیرې یکشنبې په ورځ د محترم عبدالله عبدالله خبرې هم اوریدلې وي چې له هر ډول تکبر خود خواهی لویي غوښتې، اهانت او طنز څخه پاکې وې، هره خبره یې د قانون په رڼا کې کوله، نه احساساتي و او نه جذباتي؛ بلکې په بشپړ نورمال حالت کې غږیده. هغه څوک چې له لومړۍ ورځې نه پخپلو اعصابو کنترول ونلري، هر چیرته او هرځای کې یې هر څه زه یم له شعاره پرته یې بل شعار نه وي ورکړی هغه څنګه کولای شي د اقتدار په صورت کې له دومره لوی ملت سره ګوزاره وکړي؟

د ښاغلي اشرف غني له خبرو څخه دا ترلاسه کېږي چې که اولس هغه ته رأیې ورکړې وای: نو ولسواکي به هم و او دیموکراسي هم، شفافیت به هم و او عدالت هم؛ خو چې هغه یې نه دی کامیاب کړی نو؛ نه ولسواکي تأمین شوی او نه هم عدالت او شفافیت؛ بلکې هر څه تر پښو لاندې شوي دي. نه هرګز نه!

ولس په بشپړ ډول خپل مسؤولیت ترسره کړي او د ولسواکۍ د قیام لپاره یې له هیڅ ډول قربانۍ څخه دریغ نه دی کړی. اشرف غني او دهغه ملاتړي دي د اولس ددغې پریکړې په وړاندې خپل سرونه ټیټ کړي. د لافو شافو او د لویې غوښتنې پرځای دی واقعیتونو ته ځیر شي. په دوه ګوتو د لمر د پټولو کوښښ دی نه کوي ځکه چې هر څه څرګند او واضح دي. هېوادوالو د خپل پراخ ګډون له لارې د ولسواکۍ کلک بنسټ ایښې او هیچاته اجازه نه ورکوي چې دهغوی دغه بنسټ ته تاوان ورسوي او د ولسواکۍ تر شعار لاندې د اولس دغه قانوني حق تر پښو لاندې کړي؛ ځکه چې ولسواکي د ملت په خوښه راځي، نه دهغوی د خوښۍ په پایمالولو سره، که ښاغلی اشرف غني واقعاً ولسواکي غواړي: نو بیا د ولس د رأیو د احترام په بنسټ دی د خپلې ناکامۍ په صورت کې د بحران او تحدید خبرې له خولې ونه باسي چې دا کار سراسر د ولسواکۍ د اصولو پر ضد خبره ده. او هر څوک چې د اولس د حق په وړاندې خنډونه اچوي هغوی خپل حساب او کتاب په اخیستلو ښه پوهیږي.

مختصری از سوانح چهرهٔ تابناک نهضت بزرگ اسلامی کشور ما

مرحوم انجنیر عبیدالله سیرت

(ادامه از صفحه اول)

... در حالیکه انجنیر حبیب الرحمن شهید یکسال بر او سبقت داشت، انجنیرصاحب مرحوم از یاران خاص و راز داران مورد اعتماد او بشمار می رفت.

انجنیرصاحب مرحوم با داشتن رول فعال در اولین قیام مسلحانه ۱۳۵۴ نهضت در برابر نظام طاغوتی وقت در ولسوالی سرخرود ولایت ننگرهار مجبور به ترک تحصیل و مهاجرت به کشور همسایه پاکستان گردید.

مرحوم انجنیرصاحب عبیدالله در محیط مهاجرت به حیث یک شخصیت معتدل و مصلح همواره در رفع سؤ تفاهمات میان برادران بزرگ نقش کلیدی ایفا نموده است.

در طول سالهای مهاجرت انجنیرصاحب دو دوره عهده دار ریاست کمیته نظامی حزب اسلامی، سه سال نمایندگی های حزب اسلامی در جمهوری اسلامی ایران، ریاست دارالانشاء حزب اسلامی و بیش از چهار سال سمت معاونیت حزب اسلامی افغانستان را بدوش داشت.

او همواره مورد احترام، اعتماد و محبت همه اعضای نهضت و همکاران و همقطاران خود بوده است.

مرحوم انجنیرصاحب برعلاوه داشتن مقام معاونیت حزب بمنظور تنظیم بهتر و توجیه مجاهدین و ایجاد همآهنگی میان سنگرداران عهده دار قیادت قرارگاه حضرت حمزه (رض) نیز بود که تنظیم جهاد در مناطق سرخرود، چپرهار، شیرزاد و خوگیانی را شامل می شد.

مرحوم انجنیرصاحب عبیدالله با علاقمندی به خدمت در آبادانی کشور واحد ساختمانی پامیر را تأسیس و از خلال آن در بخش های عام المنفعه ولایات شرقی کشور خدمات شایانی را خیرجاریه از خود بجا گذاشته.

او مردی پارسا، زحمت کش و پرتلاش بود و ترجیح می داد حتی با داشتن سمت های بلند در چوکات تنظیم نفقه عیال و خانواده اش را از زحمات شخصی خود تأمین نماید.

مرحوم انجنیر صاحب با سقوط نظام کمونیستی در افغانستان ابتکار آوردن صلح در میان گروه های متخاصم مجاهدین را در مجموعه ای از برادران به دوش گرفت و در میان راکت و توپ خانه اطراف جنگ صلح می جست و از زمره مجموعه ای بود که خزان و زمستان و بهاری را به آرمان صلح در سالهای ۱۳۷۱ و ۱۳۷۲ در بخش صنعتی پلچرخی در تپ و تلاش بودند.

انجنیر عبیدالله به امید آوردن صلح عادلانه و تأمین ثبات و امن سراسری در کشور از پذیرفتن ماموریت در نظام چه پس از سقوط نظام کمونیستی و چه پس از سقوط طالبان ابا می ورزید. با آرمان وحدت همه دلبستگان نظام اسلامی و آبادانی افغانستان آزاد و مرفه بسر می برد.

مرحوم انجنیرصاحب در حالیکه از بیماری پیشرفته دیابت رنج می برد، چندبار حمله قلبی او را تکان داد که به اثر آخرین حمله قلبی روز اول ثور جهان فانی را وداع گفت.

(روحش شاد و آرمان هایش محقق باد)

د ثور اوومه زموږ د معاصر تاریخ یو خونړی باب

ضیاء الرحمن

د غويي اوومه هغه ورځ ده چې ملحدو کمونستانو په دې ورځ د خپلو روسي بادارانو په اشاره د یو پوځي کودتا په ترځ کې د انسان وژني او تباهۍ یو قوي بنسټ کېښود، د قرآن کریم او نبوي احادیثو د له منځه وړلو یو ناولې پروسه یې پیل کړه، د با ایمانو، با ضمیرو، دین خوښو او له خپل هېواد او اسلامي فرهنگ سره مینه لرونکو هېوادوالو پر وژنو لاس پورې کړ، پر محمد صلی الله علیه وسلم د درود د لېږلو پر ځای پر لینن مارکس او سټالین درود ووایه، الله جل جلاله ته د کبیر ویلو پر ځای لینن ته کبیر وویل، پخپلو ټولو غونډو او مجلسونو کې به درود بر لینن کبیر شعار ورکاو، قرآن کریم ته د زړو کیسو کتاب او محمد صلی الله علیه وسلم ته د زړې زمانې لېډر ویل. د اسلام د سپېڅلي دین په اړه به یې څرگندونه ویل چې دا د نوې زمانې ضرورتونه نشي پوره کولې او دا ددې وړتیا نه لري چې عمل ورباندې وشي.

د ثور کودتا په حقیقت کې د افغانستان مسلمان ولس، اسلام، فرهنگ، خاوره او استقلال په خلاف داسې یو سور توپان و چې هر څه یې لاهو کول غوښتل، ملحدو او بې ننگو کمونستانو خپل دغه ناولي هدف ته د رسېدو لپاره د خپلو بادارانو په مرسته خپل ټول شته امکانات او وسایل په کار واچول، په لکونو بې گناه هېوادوال یې ووژل خو بیا هم زړه یې یخ نه شوه، دې لپاره چې دا کار په چټکۍ سره ترسره کړي او افغانستان خپلو روسي بادارانو ته وسپاري روسي یرغلگرو پوځیانو ته بلنه ورکړه چې افغانستان اشغال کړي، خو د کریملین واکدارانو او دهغو بریځو ته دا نه و معلوم چې د افغانستان مسلمان ولس د تاریخ هغه اتلان او زمریان دي چې د وخت هر فرعوني یرغلگر ته یې غاښ ماتوونکي ځواب ورکړی دی، په دې غیرتي خاوره کې نه د سکندر پښې ټینگې شوي دي او نه هم د چنگیز، هلاکو او مکناټین، هر څوک چې د افغانستان د پاکې خاورې د نیولو لپاره راغلي هغه لپاره قبرستان جوړ شوې او پاتې نور په پوره بې غیرتۍ د گیدړانو په څېر په منډه تښتېدلي دي.

بالاخر روسي یرغلگر پوځ او دهغه گوډاگیان هم د اوږدې جگړې وروسته له یو داسې تاریخي ماتې سره مخامخ شول چې مخکینې ټول ریکارډونه یې مات کړل، هغه شوروي اتحاد دړې وړې شوه چې د څو جماهیرونه متشکل شوې و، د برلین دیوال مات او ټول اشغال شوي هېوادونه د افغانستان د قهرمان ولس د قربانیو له برکته د خپلواکي خاوندان شول. هغه امریکا او اروپا چې د شوروي اتحاد ته مستقیم گواښ لاندې وه او هر لوري ترینه کمونستي هېوادونو د گواښ دیوالونه تاو کړي وو، نکاراگوا، کیوبا، پولینډ او هنگري په څېر هېوادونو کې ورته خپلې اډې جوړې کړې وې، د افغانستان د پنځلسو لکو قهرمانو مجاهدینو د نه هېریدونکو قهرمانیو له کبله د روسیې له دغې لوی خطرې نه په امن کې پاتې شول.

ټوله نړۍ په ځانگړې توگه امریکا او اروپا دې دا تاریخي واقعیت ومني چې افغانانو ددومره لوی قربانۍ په ورکولو سره په نړیوالو ډېر لوی احسان کړېدی، دا د افغانانو د شهامت او زړه ورتیا له لامل و چې گردې نړۍ ته د وېښتابه او جرئت احساس ورکړ، ویده ضمېرونه یې ویښ او مړې جذبې ورته بېرته ځواني کړې، ټولو اشغال شویو هېوادونو ولسونو ته یې دا الهام ور وباښه چې روسي یرغلگرو پوځونو په خلاف کامیاب جهاد نه یوازې دا چې ممکن دی بلکې بري هم یقیني دی.

نړیوال باید په دې خبره غور وکړي چې د روسیې سره امپراطورۍ د شر او دهغې له خطرناکې استعماري نقشې نه د نړیوالو د ژغورلو او خنثی کولو لپاره افغانانو کوم بې سابقه او نه هېرونکي قربانۍ ورکړي دا واقعاً د قدر وړ دي. که افغانانو ته شاباسی نشي ورکولی او د افغانستان د بیارغاونې لپاره مرستې نشي کولې نو زموږ د هېواد د اشغالولو او دلته د جنگ جگړو د اور بلولو لپاره دې پخپلو کې نه اشر کېږي، همدغه راز د افغانستان ټول مشران او چارواکی دې هم داسې عاقبت نااندیش گامونه نه اوچتوي چې د افغانستان سالمیت او استحکام له خطر سره مخامخوي، که نور هېوادونه د افغانستان د مسلمان ولس د پنځلسو لکو ککرو نذرانو ته په درنښت نه گوري، نو لږ تر لږه د افغانستان مشران خو دې داسې نه کوي، هغوی دا قرباني په دې ارمان ورکړي وو چې د قیامت تر ورځې افغانستان یو خپلواک اسلامي هېواد پاتې شي او د اسلام د سپېڅلی نظام پرته د بل څه حاکمیت پکې نه وي.

راځئ ټول افغانان په گډه له خپل پالونکی ذات سره لوړه وکړو چې لکه څنگه مو د افغانستان په خاوره کې د کمونستانو د هرې کودتا او دهغوی بادار روسي اشغالگر ځواکونه مو خنثی کړل، همداسې راتلونکی لپاره هم خپله خاوره د پردیو له اشغال نه خلاص او د یو آزاد قوم په توگه د اسلام د سپېڅلی قانون لاندې خپل ژوند تېر کړو.

زموږ ورونو، پلرونو، نیکونو، خویندو، میندو، کشرانو او مشرانو دومره ستری قربانۍ یوازې او یوازې ددغه ارمان د تحقق لپاره ورکړی دي چې پاتې نسل دهغوی په څېر د خپل دین، خاوری او استقلال د ساتنې لپاره هر وخت چمتو وي او داسې کوم غفلت ونه کړي چې د پنځلسو لکو شهیدانو په وینه گټل شوي استقلال له لاسه ورکړي او د الهي دین پر ځای د طاغوتي نظامونو طوق په غاړه واچوي.

په هلمند ولایت کې د مجاهدینو د بریا ۲۲ مه کلیزه ونمانځل شوه

شهادت، هلمند:

د ۱۳۵۷هـ ل د کمونستي پوځي کودتا ناتار افغان ملت له هر ډول ستونزو سره مخ کړ، دکمونستي حکومت دبقاء او دوام په خاطر د وخت نړیوال خو بې رحمه شوروي ځواکونو هم مستقیمه نظامي او سیاسي مداخله وکړه او هڅه یې وکړه چې په خپلو دوو پرله پسې کودتاگانو سره دکمونستي نظام اساسات وساتي.

ددې کړغېړنو کودتاگانو پایله دا شوه چې دهیواد اکثریت برخه له خاورو سره خاورې شوه، دوه میلیونه افغانان په شهادت ورسیدل، یونیم میلیون افغانان معیوب شول، دبدن قیمتي اعضاء یې له لاسه ورکړل، نږدې شپږ میلیونه افغانان دسیمې هیوادونو او دنړۍ لیرې پرتو هیوادونو ته په هجرت اړ شول، کمونستي حکومتونو پرخپل اولس له هیڅ ډول ظلم څخه دریغ ونکړ، درانه او لوی بمونه یې دهیواد په گوټ گوټ کې وغورځول، سکاټ توغندي یې دخلکو په کورونو او اوسیدوځایونو وتوغول، دټانکونو او ثقیله جنگي وسایلو استعمال په ډېره بې رحمي سره وشو، دسیاسي زندانیانو په نوم په سلگونه زره انسانان بې محاکمې د بلدوزر په واسطه په کندو کې ښخ کړای شول، حتی دپل چرخي دمحبس قوماندان عبدالله هم ځانته داحق ورکړ چې لسگونه زندانیان په زندان کې ووژني، زندانیان تر سختو او سنگینو شکنجو لاندې ول ډېری داسې مجاهدین هم دا اوس ژوندي دي چې په کمونستي زندانونو کې یې دلاسو او پښو نوکان یې ویستل شوي، برقي شاټونه، ایښېدل اوبه پر زندانیانو اچول شوې، په خولې کې دجوشو اوبو پیپونه نویستل شوي. ددې ټولو ظلمونو او وحشتونو پرخلاف افغان مجاهد اولس په ټش لاس دایمان په حکم، جهاد فی سبیل الله یې لاس پورې کړ، دهیواد په گوټ گوټ کې د کفر او الحاد په وړاندې دتکبیر چیغې پورته شوې، ترڅو دشوروي اتحاد سره دنهه کلن جهاد او دکمونستي حکومت سره تر څلور کلن جهاد چې ټوله دریالس کاله کیږي وروسته دمجاهدینو په لاس یو اسلامي انقلاب ترسره شو، چې لومړی دهیواد لوی او کوچني ښارونه شول او بالاخره د ۱۳۷۱هـ ل د ثور پر اتمه دهیواد پلازمینه کابل د افغان مجاهدینو په لاس فتح شو.

نن ورځ په افغانستان او دهیواد دباندې دمهاجرو په کیمپونو کې دمجاهدینو دبریا ورځ چې دثوراتمه ده لمانځل کیږي، چې دافغانستان اساسي قانون هم په خپله اتلسمه ماده کې ددې ورځې (د ثور اتمه) د درنښت په ویاړ رخصتي اعلانوي.

دحزب اسلامی هلمند ولایتی دفتر دهمدې ورځې په مناسبت نن دثور پر اتمه سهار لمانځغونډه درلودل، چې پکښې دهلمند دمرکز لښکرگاه او شاه اوخوا سیمو علماء کرامو، مجاهدینو، قومندانانو، ځوانانو، استادانو، محصلینو او متعلیمنو گډون کړی ؤ، یاده غونډه دسهار پر اته او دیرش دقیقې د مولوی عبدالباقي (رحمتي) صاحب لخوا دکلام الله په څو مبارکو ایاتونو راپیل شوه، لومړی ویناوال دحزب اسلامی هلمند ولایتي دفتر منشي الحاج امیر عبدالصبور خان ښتین ؤ، نوموړي په خپله پرانستې وینا کې دښه راغلاست او هر کلي وروسته وویل: دهیواد ټول اسلامي تحریکونه باید دهیواد دسیاسی او امنیتي بحران دله مینځه وړلو لپاره په گډه ملاوتړی او واحد دریځ غوره کړي.

وریسې دحزب اسلامي دهلمند ولایتي دفتر دعلماءو شورا مرستیال الحاج مولوي محمد صاحب وینا وکړه، نوموړي دغونډې گډونوالو ته دکمونستي حکومت د ظلم او وحشت ترخې خاطرې او دمجاهدینو صبر بیان کړ،

ورپسې تکره او خوږ ژبي نعت خوان محمدرفیع بختیار په خپل خوږ او ژړونکي اواز کې په زړه پورې ترانه وویل، صالح محمد صمیم، او نظرمحمد نیازي خپل اشعار وړاندې کړل، ورپسې د هلمند ولایتی دفتر امیر مجاهد ورور الحاج امیر حفیظ الله حقیار پرجوشه او هیښوونکی وینا وکړه، نوموړي دخپلی وینا په پای کی پر ټولو مجاهدینو ږغ وکړ چې پخپلو کې سره یوځای شي په خپلو تیرو کړو پښیماني څرگنده کړي او دالله څخه عفوه وغواړي. نوموړي وویل: که چیرته مجاهدین پخپلو کې سره یو لاس شي؛ نو د بري ژوند به مو په نصیب شي.

دحزب اسلامی پخوانی سنگری مجاهد، شاعر او لیکوال الحاج ادم صفت الله دمجاهدینو په خلاف دسیمی او لویو دولتونو استخباراتی دسیسو ته اشاره وکړه او پر خلکو یې ږغ وکړ چې هوشیار واوسي؛ تر څو یو ځل بیا د ثور ۷مه تکرار نشي او افغان اولس له لوی ناورین سره مخامخ نشي.

دحزب اسلامی دهلمند ولایتی دفتر دځوانانو مسؤل سلطان شاه صفاري، دثور داوومی او اتمی مقایسوي څېړنه وکړه په وینا یې چې دثور اوومه دافغانستان دسیاسی تاریخ دشرم او پیغور برخه او د ثور اتمه د افتخاراتو او ویاړونو برخه ده، نوموړي دخپلې وینا په وروستیو کی پر افغان حکومت او نړیوالی جنایي محکمې ږغ وکړ چې کمونستي جنگي جنایتکاران دی دجنایی عدالت دتامین په خاطر په علني ډول محاکمه کړي.

له یاده دې پاته نه وي چې دغونډې دنظم او انانسرۍ چارې دحزب اسلامي دهلمند ولایتي دفتر دځوانانو ټولنې مرستیال لالاخان خروټي او ځوان ورور انجنیرشبیراحمد افغان پرمخ ورلې، ماموراغا او دحزب اسلامي تکره جهادي قوماندان طالب یارانه هم ویناوې وکړې او بالاخره باده نمانځ غونډه دسهار پر یولس او دیرش دقیقې د مولوي اغاصاحب په دعایه وینا پای ته ورسیده.

دغه ژبک بو داسي عوره امت گرځولی باست چي پر حلقو گواهان اوسي

شهادت
اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان تفراتي ارگان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي څانگه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
۰۷۰۰۲۰۲۲۰۱

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالېږل شوې مطالب نه مستردېږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

رهبر اخوان المسلمین و ۶۸۲ نفر دیگر در مصر به اعدام محکوم شدند

رسانه ها:

وکیلان در مصر می گویند که یک قاضی در یک دادگاه دسته جمعی ۶۸۳ نفر از جمله محمد بدیع، رهبر اخوان المسلمین را به اعدام محکوم کرده است.

آقای بدیع و ۶۸۲ نفر دیگر از حامیان محمد مرسی، رئیس جمهور برکنار شده مصر در ارتباط با حمله به یک پاسگاه پولیس متهم بودند.

نیز ۵۲۹ نفر دیگر با همین اتهام به اعدام محکوم شده بودند که حکم ۴۹۲ نفر از آنان لغو شد. حکم بسیاری از آنها به حبس ابد کاهش یافت.

حمله ای که این گروه به دست داشتن در آن متهم بودند، در ماه حوت و در جنوب مصر هنگامی به وقوع پیوست که مأموران امنیتی با تجمع دو دسته از هواداران معترض آقای مرسی برخورد کردند.

معترضان خواهان بازگشت آقای مرسی به قدرت بودند.

روند بررسی اتهامات و سرعت صدور احکام با اعتراض گسترده سازمان ملل متحد و نهادی حقوق بشری روبه‌رو شده است.

بر اساس گزارش دیده‌بان حقوق بشر هر دادگاه فقط چند ساعت طول کشیده و به وکیلان متهمان اجازه دفاع از موکلانشان داده نشده است.

خبرنگاران می گویند تعدادی از بستگان مونث متهمان که در بیرون دادگاه منتظر بودند، با شنیدن خبر صدور احکام از حال رفتند.

پس از برکناری آقای مرسی در ماه جون، مقامات دولتی با هواداران اخوان المسلمین بشدت برخورد کرده اند.

هزاران نفر از اعضای این گروه بازداشت و صدها تن از آنها در جریان درگیری با مأموران امنیتی و پولیس کشته شده اند.

دولت موقت تحت حمایت ارتش گروه اخوان المسلمین را که از زمان برکناری محمد مرسی، رئیس جمهور مصر به شدت تحت فشار بوده، گروهی "تروریستی" می داند.

په سوریه کې د بېلرې بمونو پراخه کارونه

سوریه، رښتې:

د سورېې حکومت له خوا د بې رحمه بمباریو، په ځانگړې توگه د بېلرې بمونو له مله په تېره میاشت کې د حلب ښار نه لسگونه زره خلك تښتېدلي دي.

دا د ټېلو فلزي ستر بېلرونه له چورلکې غورځول کېږي.

د بي بي سي خبریالانو ته د لومړي ځل لپاره اجازه ورکړل شوې چې د حلب ښار ته ورشي او حالات له نېږدې وگوري.

د بي بي سي ایان پانېل په خپل رپوټ کې کاږي، په تېرو څو دقیقو کې یو بل بېلري بم، البته دوه نور په دې گاونډ کې را پرېوتل.

تاسې کولی شئ دلته هغه نه منتونکې ویجاړې وگورئ چې د ولسي وگړو په سیمو کې د څو میاشتو بمباریو له امله شوې ده.

دلته ډېرې ودانۍ تشې دي څکه معلومه ده چې خلکو دغه سیمه پرابښي ده.

داسې ویل کېږی چې د حکومت له خوا د بې رحمه بمباریو په ځانگړې توگه د بېلرې بمونو له امله په تېره میاشت کې د حلب ښار نه لسگونه زره خلك تښتېدلي دي.

دا له چاودېدونکو توکو ډک د ټېلو یو ډول فلزي ستر بېلرونه دي چې له چورلکې را غورځول کېږي.

دغه بمونه وچ او لانده ټول سېزي او سخته ویجاړې را منځ ته کوي.

ډېر خلك چې دلته اوسېدل، اوس تښتېدلي دي. ټول گاونډ اوس سره تیت او پرك شوی دی.

کله نا کله یو نامعلوم کس وینئ چې د سړك ها خوا دې خوا منډې وهي – ځینې وختونه ماشومان په څخلو کې گرځي.

خو د ځان خوندي ساتلو لپاره ډېری خلك د ښار څنډو ته تښتېدلي دي.

د سورېې حکومت ټینگار کوي چې کله دوی بمونه غورځوی، د یاغیانو ځایونه په نښه کوي – دوی پر هغو کسانو برید کوي چې د هېواد نیولو هوډ یې کړی.

د سورېې حکومت دوی ترهگر بولي.

د بشري حقونو سازمانونه وایي دغه بمونه سم هدف نه شي ویشتلی.

دغه بمونه له چورلکې راغورځول کېږي، دوی په هوا کې چورلې نو د دې هیڅ ضمانت نه شته چې دغه بم به چېرته لوېږي.

موږ تېرې څو ورځې په همدې ښار کې تېرې کړې، او هغه څه چې تاسې ورسره مخ یاست دا دي چې بمبارۍ شپه او ورځ روانه وي.

حقیقت دا دی چې په حلب کې هیڅ داسې ځای نه شته چې په کې امن وي، که هغه د حکومت غاړه وي او که د یاغیانو.

نتایجی که بر مبنای قانون ...

موصوف قبل از اعلام نتایج نهایی، رفتن انتخابات به دور دوم را پیش از وقت خواند، تا در مورد آن ابراز نظر کند.

وی خواهان بررسی جدی تقلب در جریان انتخابات گردیدو از کمیسیون شکایات انتخاباتی خواست که به گونهٔ شفاف به آن رسیدگی کند.

داکتر عبدالله افزود نتایجی که بر مبنای قانون به دست بیاید، مورد پذیرش تیم انتخاباتی اصلاحات و همگرایی می باشد.

وی بار دیگر تقلب را یگانه رقیب خود در انتخابات عنوان کرد و گفت که اگر آرای تقلبی و حقیقی از هم تفکیک شود، پیروز است.

به گفتهٔ وی، تقلب گسترده و سازمان یافته در انتخابات شانزده حمل صورت گرفته؛ اما در مورد اینکه از سوی چه کسانی صورت گرفته است؟ معلومات نداد.

وی با انتقاد از کمیسیون مستقل انتخابات گفت که تا کنون در مورد آرای باطل و یا هم بازشماری شده، به آن ها معلومات مفصل ارایه نکرده است که مربوط کدام محلات و مراکز رای دهی می باشد.

داکتر عبدالله عبدالله همچنان در مورد آرای ۴۴۴ محل دیگر که کمیسیون انتخابات گفته مشکلات دارد و تا دو روز دیگر آن را بررسی می کند، ابراز نگرانی نمود و خواهان ارائه معلومات گردید.

قسمتی دیگر از انتقادات داکتر عبدالله در مورد روند روز رای دهی بود که به باور وی، به نسبت کمبود اوراق رای دهی، مردم در بسیاری نقاط کشور نتوانستند رای خود را به صندوق بریزند.

وی از کمیسیون انتخابات خواست که در مورد آن به تیم اصلاحات و همگرایی، پاسخ قناعت بخش بدهد.

داکتر عبدالله همچنان از کمیسیون شکایات انتخاباتی انتقاد نمود که برای درج شکایت در مورد نتایج ابتدایی، زمان کوتاه ۲۴ ساعت را در نظر گرفته است.

موصوف افزود که زمان برای درج شکایت باید بیشتر شود؛ بخاطری که کمیسیون در نشر نتایج ابتدایی بر صفحهٔ انترنتی اش، تاخیر کرده است.

داکتر عبدالله در آغاز سخنان خود در کنفرانس مذکور، از هوادارانش ابراز تشکر نمود که با قبول خطر به پای صندوق های رای رفتند و به گفتهٔ وی، به افراطیت و تروریزم، نه گفتند.

داکتر عبدالله گفت: "ما هم به حیث کسانیکه ملت افغانستان بالای ما اعتماد کرده اند، از رای مردم حفاظت می کنیم و مسوولیت کمیسیون های انتخاباتی است تا از آرای مردم حمایت نمایند."

عبدالله بدون اینکه از کسی نام ببرد، مقام های حکومتی را به تقلب و مداخله در انتخابات متهم نمود و گفت که "ما خواستار شفافیت و قانونیت در پروسهٔ باقی مانده هستیم."

موصوف، در خصوص ائتلاف با تیم انتخاباتی پیشتاز دیگر گفت که دیدار و نشست های داشته اند؛ اما به هدف ائتلاف نبوده است.

د انتخاباتو کمیسیون مفسد...

"کله چې د شکایاتو کمیسیون خپله پریکړه وکړي، له هغې نه بعد به د ټاکنو خپلواک کمیسیون په ټولو مواردو غور کوي، که چیرې ثابت شي، چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون محلي یا موقتي کارمندان جرمي پېښه کې ښکیل وي؛ لوېې څارنوالی ته به معرفي کیږي او که بې انتخاباتي سرغړونه کړې وي، د ټاکنو د قانون په اساس به ورسره چلند کیږي او په ځای به یې ډېر ژر نور کارمندان وگمارل شي."

که څه هم تراوسه د حمل د شپاړسمې انتخاباتو وروستی نتیجه نه ده اعلان شوې، خو د جمهوري ریاست ځینې کاندیدان شکایت کوي، چې د انتخاباتو یو شمیر کارکوونکي په درغلیو کې ښکیل دي.

د انتخاباتي چارو یو شمیر څېرونکي وایي، چې په درغلیو کې تردیره د ولسوالیو او کلیو په کچه د انتخاباتو ساحوي ناظمان شامل وي.

دا ناظمان چې ډي، ایف، سي ، هم ورته ویل کیږي، د دریو میاشتو لپاره استخدامیږي او دوی بیا په ولسوالیو او کلیو کې د انتخاباتو موقت کارکوونکي استخداموي.

په افغانستان کې د دیموکراسی د څار اداري رئیس ذکریا بارکزی، بیا وایي، چې د انتخاباتو خپلواک کمیسیون باید خپل مفسد کارکوونکي په تورلست کې شامل کړي.

"دوی نه یوازې باید په تورلست کې شامل شي، بلکې د همیشه لپاره باید په ادارو کې له کارکولو منعه شي، زما وړاندیز مشخص دادی، چې دغه ساحوي ناظمین په بایومیټریك سیستم وکتل شي، ترڅو په بل ځای کې په بل نوم کار ونه کړي، او تر ډېره کچه باید کوشش وشي، چې له ښوونکو څخه کار واخیستل شي، څکه دوی د دولت په چوکاټ کې کار کوي او سوانح لري."

د انتخاباتو د کارکوونکو د درغلیو په اړه شکایتونه په داسې حال کې کیږي، چې د ابتدایي نتیجو له مخې د افغانستان د ولسمشری انتخابات د دوو کاندیدانو عبدالله عبدالله او اشرف غني احمدزي ترمنځ دویم پړاو ته تللي.

ځینې کارپوهان وایي، که چیرې د انتخاباتو او حکومت هغه کارکوونکي له دندو لرې نه شي، چې په فساد کې ښکیل وو، دویم پړاو انتخابات به هم له درغلیو ډك وي.

د هېواد جهادي او سیاسي ...

چې دسهار له نهو بجې پیل او تر یولس بجو یې دوام وکړ، د ننگرهار، لغمان ، کنړ او نورستان مجاهدینو، علماء کرامو، قومي مشرانو او خوانانو برخه واخیسته او د مرحوم روح ته یې د دعا لاسونه لپه کړل.

دفاتحې په وروستی برخه کې په ننگرهار ولایت کې دحزب اسلامي افغانستان ولایتي مشر استاد عبدالعلي دمرحوم پر ژوند او مبارزه لنده رڼا واچوله. استاد وویل: انجنیر عبیدالله سیرت زموږ دمقدس جهاد یو پیاوړی مجاهد مشر و چې پخپلو مبارزانه هڅو یې د اسلامي انقلاب لیکې لاپیاوړې کړې او دهمدې مشرانو دمبارزې په پایله کې زموږ هیواد دکمونیزم له پوچې عقیدې نجات پیدا کړ. له استاد عبدالعلي وروسته دننگرهار پوهنتون استاد پوهاند دوکتور دل اقا وقار د انجیر عبیدالله سیرت لنډ سوانح او دهغه په شخصیت عالمانه وینا وکړه.

انجنیر عبیدالله سیرت په هیواد کې داسلامي نهضت د سر لارو مشرانو له جملې څخه و او دخپل ژوند یوه لویه برخه یې په همدې لار کې تیره کړې وه، چې تیره اونی د وریښې ناروغی له امله په حق ورسیده. دحزب اسلامي اجرائیه او رهبري شورا دمرحوم مړینه یوه لویه ضایعه او دکورنی غړو او دصف ملگرو سره یې پدې غم کې ځان شریك گڼي.

روح دې ښاد او یاد دې تل وي

ټول افغانان دې د ممکنه ...

ده وویل: "نور باید هېواد کې پخوانی ناورین تکرار نه شي، موږ نور نه غواړو، چې میندې بورې او ماشومان یتیمان شي."

لودین د ۱۳۵۷ کال د ثور د اومې کودتا په افغانستان کې د وژنو او گډوډیو اصلي لامل وبلله.

له روسانو سره په جگړه کې جنگیدلی ملك گل جان وایي، چې یو نیم میلیون افغانانو خپل ژوند له لاسه ورکړ ،ترڅو یو اسلامي او ښه حکومت رامنځ ته کړي.

نوموړي پر ټولو هېوادوالو غږ وکړ، چې که ټاکنې دویم پړاو ته لاړې شي، نو باید په ټاکنو کې ونډه واخلي.

یاده دې وي، چې د ۱۳۷۱کال د غویي په اتمه مجاهدین کابل ته ننوتل او د نجیب حکومت یې رنگ کړ، د غویي اتمه د هېواد د مرکز سربېره په یو شمېر نورو ولایتونو کې هم نمانځل کېږي.